د افغانستان اسلامي امارت

**د چارو اداري لوی ریاست**

د امارت چارو د انسجام معاونیت

د ملی اقتصاد او زیربناوو ریاست

گڼه: ۵۶۴۳ ۱۴۴۷/۴/۲

نېټه: / / ۱۴۴۷

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم اقتصادي معاونیت ته!**

وعلیکم السلام و رحمة الله و برکاته!

**موضوع: د زړو ټایرونو د صادرولو په اړه**

ستاسو محترم معاونیت د ۱۷/۳/۱۴۴۷ نېټې (۱۲۲۸) گڼې لیک په ځواب کې لیکو:

څرنگه چې څه موده مخکې د وحید محترم لمټېډ شرکت د (۵۰،۰۰۰) پنځوس زره ټنه، د ارغستان ترانزیټي او بارچالانی نړیوال لمټېډ شرکت د (۱۰،۰۰۰) لس زره ټنه زړو ټایرونو د صادرولو په تړاو د صنعت او سوداگرۍ وزارت څخه د اجازې غوښتنه کړې وه، چې د یادې موضوع د څېړلو په موخه په ۱۷/۸/۱۴۴۶ نېټه د صنعت او سوداگري محترم وزارت کې د صنعت او سوداگرۍ چارو د معین تر مشرۍ لاندې د زړو ټایرونو له کاروباریانو سره ناسته شوې وه، چې په یاده ناسته کې د زړو ټایرونو د صادرولو په تړاو لاندې پرېکړې شوې وې:

۱. بهتر است به منظور حمایت و رشد صنایع داخلی جهت ایجاد فابریکات بیشتر با ظرفیت بلند و تقویه صادرات برای شرکت‌های فوق‌الذکر و سایر شرکت‌های متقاضی صرف به مقدار (۱۰۰۰) یک هزار تن طی یک سال برای یک بار اجازه صادرات داده شود.

۲. شرکت‌های صادر کننده بصورت دسته جمعی اقدام به ایجاد فابریکات پروسس تایرهای کهنه را نمایند، وزارت صنعت و تجارت سهولت‌های لازم را برای شان فراهم می‌نمایند.

۳. صادر کننده‌گان باقی‌مانده تایرهای کهنه موجود خویش را به شرکت‌های پروسس تایر کهنه به فروش برسانند.

۴. شرایط سرمایه‌گذاری و ایجاد فابریکات پروسس تایرهای کهنه در داخل کشور در هماهنگی و همکاری وزارت صنعت و تجارت و سایر ادارات ذیربط امارتی و سکتور خصوصی فراهم گردد.

نو د صنعت او سوداگرۍ محترم وزارت د پورتنۍ گڼې وړاندیز په متن او ورسره مل نورو سندونو کې پاسنۍ پرېکړې د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم مقام ته وړاندې شوې او محترم مقام یې په اړه د ۲۵/۱۰/۱۴۴۶ نېټې (۵۸۳۹) گڼې حکم په لاندې بڼه صادر کړی دی:

«**وکتل شو!**

**د موضوع اړوند د اداري نظر تائید دی.**

**د اداري نظر: دا چې له زړو ټایرونو څخه بېلابېل توکي او وسایل جوړېږي او خپلې وطني فابریکې ورته اړتیا لري، نو په داخلي فابریکو دې وپلورل شي او بهر ته دې نه صادرېږي.**»

د افغانستان د صنایعو او معدنونو خونې د ۱۵/۱۱/۱۴۰۳ نېټې (۱۸۵۷) گڼې لیک په متن کې د صنعت او سوداگرۍ محترم وزارت ته د زړو ټایرونو د صادرولو په اړه داسې لیکلي دي: په کابل ښار کې د زړو ټایرونو د پروسس اووه فابریکې فعالیت کوي، چې د ورځې د (۱۸۴) ټنو، د میاشتې د (۵۵۲۰) ټنو او په کلنۍ کچه د (۶۶۲۴۰) ټنو زړو ټایرونو د پروسس ظرفیت لري، چې یادې فابریکې اوس د خام موادو له سخت کمښت سره مخ دي، همدارنگه د زړو ټایرونو د پروسس دوه فابریکې په هرات ولایت او یوه فابریکه په ننگرهار ولایت کې فعالیت کوي، چې د ظرفیت کچه یې له یادو فابریکو جلا ده، نو اړتیا نشته چې خام مواد (زاړه ټایرونه) له هېواده بهر صادر شي او یا هم د موادو د کمبود له امله په کورني بازار کې نرخونه لوړ شي.

آدرس: ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان، قصر مرمرین، کابل ـ افغانستان Website: www.aop.gov.af Tel: ۰۲۰۲۱۴۳۱۲۶

همدارنګه د زړو ټایرونو د پروسس یو شمېر کورنیو شرکتونو هم د خپلو غوښتنلیکونو کې چې خلاصه یې په لاندې توګه دی د صنعت او سوداګرۍ محترم وزارت ته لیکلي دي: د فاروق اعظم صنعتي او ریساکلینګ شرکت د ورځې (۳۵ څخه تر ۴۰) ټنه، د کلین ورلډ ریسایلکینګ اند سټریل شرکت د ورځې (۱۱ څخه تر ۱۵) ټنه، د مازوت کابل ځدراني تولیدي فابریکې د (۳۵ څخه تر ۴۰) ټنه، د سید احمد الفت د ټایرونو د پروسیس شرکت په ۲۴ ساعتونو کې شاوخوا (۲۰) ټنه، د الماس غرب د سون توکو تولیدی شرکت د ورځې (۲۰) ټنه، د خلیل الرحمن علي خیل د سون توکو د پروسس تولید شرکت د ورځې د (۲۰) ټنه، د نورالرحمن عظیمی د زړو ټایرونو د ویلې کولو او پروسس شرکت د ورځې (۲۵) ټنه زړو ټایرونو د پروسس ظرفیت لري. خو اوس مهال یادې فابریکې د خام موادو له کمښت سره مخ دي او زیاته کړې یې ده؛ چې ځینې اشخاص زاړه ټایرونه بهر هېوادونو ته قاچاق کوي، او ځینو نور ته رسمي اجازه ورکړل شوې ده، چې دا کار زموږ صنعت ته لوی زیان رسوي.

خو اوس مهال ستاسو محترم معاونیت د پورتنی ګڼې لیک په متن کې د زړو ټایرو په تړاو داسې نظر لیکلی دی: «معاونیت اقتصادي بعد از ملاحظه اسناد فوق الذکر به این نظر است که چهار موارد نګاشته شده در پیشنهاد شماره (۱۷۵) مؤرخ ۱۱/۱۰/۱۴۴۷ وزارت صنعت و تجارت پیش از وقت بوده و قبل از همه باید حمایت و تسهیلات لازم برای بلند بردن سطح پروسس و استفاده از تایرهای کهنه در فابریکات داخلی فراهم و متمرکز شود.» د ستاسو په پورتني نظر کې د یادې موضوع برخلیک په کامله توګه نه دی روښانه شوی، چې ستاسو محترم معاونیت د زړو ټایرونو له صادرولو سره موافق نظر لري او که نه؟ نو د دې لپاره چې یاده موضوع د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم مقام ته ښه روښانه شي، ستاسو محترم معاونیت څخه هیله کېږي، چې د صنعت او سوداګرۍ محترم وزارت سره په همغږۍ د یادې موضوع په تړاو هراړخیز تخنیکي معلومات راټول، تحلیل او اقتصادي اړخونه یې وڅېړئ او له هغې وروسته خپل مشخص نظر (چې زاړه ټایرونه بهر ته صادر شي او که نه؟) د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم مقام سره شریک کړئ. والسلام.

**شیخ الحدیث نورالحق انور**

**د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس**

ثبت وارده: ۱۱۴۷۱
۱۴۴۷/۱۰/۱۲